ستر کندهار

تر تا جار سمه وطنه ! !

ستا په زړه کی خوږی کور ؤ

ستا په مینه کی پیدا سوم

ستا نغری کی می بل اور ؤ

ستا په غیږ کی ارغنداب دی

چی پر شا او باندی سپور ؤ

چی د تورو به دی شرنګ سو

د دښمن کورګی به تور ، ؤ !

ستر احمد دی ننګیالی دی

د میرویس دی تومره زور ؤ

د ملالی لوړ غیرت دی !

د نازو همت لا لوړ ؤ !

د میوند (۱) پرهره شړه

به دښمن ته جوړ پیغور ؤ

لانز اوسه تور یالی یې !

د غره وار هم پرتا پور ، وُ

سر پر محکمه جنت یې

نعمتونو دي څه شور ، وُ

ستا په ښکلیو کې به سپین سو

که له اصله سوی سکور وُ .

زما ستره کندهاره !

زړه مې تل په تا ټکور ، وُ

۱۳۷۳-۱۲-۱۲

کراچۍ

لوښمار ځوښن

دمشکو په کاروان کی یود عودو قافله وه
د زلفو سلسلو کی یوه بله شان ډېوه وه
په سترګو کی نرګس وه غوړیدل راغوړېدله
یو سپینه مرغلره پر یار څو باندی پرته وه
دسروشونډو مسکا وه خندیدله ځلیدله
دسپین غاښ په بربېښنا کی یو بل شانتجلهٔ
په لای کی دګوټیو پانه پانه لتونیدله
ګلونه وه، دګلو غوړېدلي خوله غنچه وه
امیل وو دلاجوردو سپینه غاړه کی لویدلی
یاقوت وو، سره طلا وه، دهستیو خزانه وه

ناپامه دلوتمار هوس لښکر باندی راتوی سو

پرقبر مړاوی رژېدلي ګلدسته وه

٨ - ٢ - ١٣٧٢

کراچی

خپله مینه خپله ځاله

زړه چې مي وطنه! ستا غمونو کې بې حاله سي

ژوند په جنتونو خدای ستا ماته لا محاله سي

څه به کړم خوبونه فردوسي د دې پردي وطن

عقل لېوني سي صبر و توان مي بې مجاله سي

شور چې مي تر غوږ ستا د مرغواندو چڼچڼيو سي

زړه لکه بلبل چه په قفس بې قيل و قاله سي

سکاړا و ستینګرونه بیا سیني دربانډي یخي کړي

ستا نازک زړګی چې له سرو وینو مالامال سي

چارا وره ظلمونه او کفرونه ستا پر سر باندي؟

ستا دا دښمنان دي لا بدمرغه او بدحاله سي

روح به یې غمجن وي چې په خپل زور یې ګټلی وي

چیری چې په قبر کې خبر ستا له احواله سي

زه دې سم قربان ستا له ها ورانو ورانو تړونه

کله چې مي ستا وجود یو لږ شانته ترخیاله سي

واوره دپردیسی لور فریاد په دې غزلــه کې
ستا په غم کې وریته، په نا خوالو دی ملاله سی
ربه! ته هادی د دغه وران اوتیت ملت او سې
بیرته یې آباد کړې چه خپل کور خپله یې خاله سی

۲۰ - ۵ - ۱۳۷۳
کراچی

د افغان ساه (!)

چې یې ساه !
د عرش په لوري
لوړه تلله
بیا هم سروه !
بوګنېدله ګرېدله
ویل یې ! تل مې :
لوړ سر ونه خوښېدله
کښته ورک کړې !
سرخمی تې بد ویله
لوړ خوښه دی !
لوړی سترګې، لوړ سر ونه
کښته څه ده ؟ غلامی !
دایې ویله !
زه هم عرش ته

سرلوړی ځان سره وړمه
چې پلرو مې هم له ځانه سره وړله
دا زه څه یم ؟
د هغو پلرونو ساه یم
چې مدام بې
سرلوړی خپله ساتله
ماته یاده !
اودستی مې راپه زړه سوه !
دافغان ساه چې وتله :
عرش ته تلله !!!

۱۳۷۱ - ۳ - ۶
کوېټه

زما د هیلو ناوې

زما د هیلو ناوې!
د نور آیینې ته ناسته
او د سبا (!)، د پسرلي په خاطر ځان جوړوي
د تورو زلفو ترلایو یې
د سپین مخ رڼا راځي
د ښکلا غلاوې کوي
اخلي سرخي د گلاب!
د خپلو شونډو، انگولیاره
کاسه کاسه نرگس راوړي
پټه د لېمو لپاره
هلال یې کښېښو د ښو پرڅوکو
محراب یې جوړ له وروځو:

څوک به ورغواړی ؟
د طواف له پاره !
او د سپین مخ په تجلا به:
څوک راوپرزوی ؟
او څوک به وسوځوی ؟
زما د هیلو ناوې
د لور آیینې ته ناسته
او د سبا دپسرلی په خاطر :
ځان جوړوي !!!

۱۹ - ۱۰ - ۱۳۷۲
کراچی

زما ریبه !

ربه دا خبره تر منځ سپینه کړي

مینه د زړګی ، زړونه په مینه کړي

ولی په خواږ وګی دی ترخه راکړه ؟

بیرته دا ترخه ژبه شیرینه کړي

خاوري مولسرو وینو نه رنګ واخیست

پاکه په کوثري دغه وینه کړي

څه چې رنګینی په جنتوکی دي !

بیرته مو دا ځمکه په رنګینه کړي

ورکړی لویه ربه خیالي حسن نور

ښه یې لا په ښکلیو کی حسینه کړي

داسی چې نازونه یې پرچا کول !

هسي په لا لیو ، نازنینه کړي

۱۹ - ۴ - ۱۳۷۱

کندهار

د سبا (!) زیری

آسمانه ستاله تور و تور وڅوکو !

سپینی سپېدې په ځلېدو ښکاری

لمر هم له ورانو کنډوالو راګوری

ورانګی یی زر په ځګېدو ښکاری

ستوروهم وکتل ما ولیدله !

څوله د سپوږمی په مسېدو ښکاری

زهره هم ماته سترګکونه وهی !!

پروین ملال په بلېدو ښکاری

شفق می سرې وینی راپاکی کړلې

خیال ته راځی په ژړېدو ښکاری

ستا په تورتم او تروږمی کی هسکه !

نور د سهار د پلوشو ښکاری

د چا د سپین مخ په رڼاکی ربه !

ښکلی سبا (!) په رسیدو ښکاری

۱۱ - ۲ - ۱۳۷۲

پیغام

ماویل گله کړته راغلې ؟
زه به جوړ درته اوربل کړم
په پلوکي به دې پټ کړم
چې په تاښایسته کاکل کړم
ستا په مشکو ستا په عطرو !
به خوشبوي سپېره بورجل کړم
ستا په پانوکي به پټه
د بیاض هره غزل کړم
د پښتو بڼ او چمن به :
ستا په پالنو گل و بل کړم

کندهار ته به دی ورمه:
چې راشین دی په زابل کړم
سبه سو راغلی زما ګله!
انجمن به په تنابل کړم
په شرنګ شرنګ به دی راوینبه:
د خوشحال هره بدل کړم!

۲۰ - ۱۱ - ۱۳۶۹
کابل

کرغیز پښتنه پېغلا (۱)

راتله به لکه حوره
په خپل حسن مغروره
چې شنه به له خنداوه
څه ښکلې مشهوره!

راغلې له ختنه!
خوشبویه سیمین تنه
د حسن بې شرنګۍ ؤ!
پلوکې وه د ننه!

چا چاویل ځلا ده!
او چاویل بربېښنا ده
ما هم ویل همدا ده
دا مروټه مسیحا ده!

دریغه ! چه هیڅ نه وه !
نه داوه نه هغه وه !
نه څوره نه کعبه وه !
په کفر کې پرته وه
د غارې هار یې وشلید
پلو یې د مخ واښو !
بد رنګ حسن یې لوڅ شو
نور (۱) مخ یې هم رسوا شو !

۳ - ٤ - ۱۳۷۲
کندهار

ټينګې ارادې

څوک لا طوفانه چې څپې مې
لا سرې نه دي!
موج پسې بل موج دي،
د ګرداب هسې شپوې نه دی
نسوم پکښې ډوبه کړي هر څومره
ګردابي کړمه!
خوشې لوس څو نه یم:
لا مې سستې ارادې نه دی
څومره په ارمان را غلل
او ولاړل چې غلام مې کړي
سر مې کښېنه نسو!
د غیرت هسې نشې نه دي

بیامی سوځوی په سرو اورولو
که زه وسومه !
خدای ستهٔ د دی سرو سرو :
دوږخو هسی لمبې نه دی
څومره یې ګلونه !
راته مړاوی پاڼی پاڼی کړه :
دامی خنداګانی څی !
له سترګو، اند ښبنی نه دی
بیایې تورغوټه کړ !
چې کباب له سینده و باسی
دې وړو وړو ته !
د ربغه ستړی داغوټې نه دی!
لا به رابرسېره دا وړې وړې :
ککری سي :

هومره که لا ستړی نه دی
دومره هم وږی نه دی!
دوی موسا په نبض نه خدای سته :
څومره زړه سبه کړی وو!
وینی په رګو کی لا :
لا تودې دی او سړې نه دي

١٣٧١ ، ٥ ، ٢٨

پېښور

مړاوې هیلې

څاڅکو !

راواوری ،

باران باران سي

راسی زما د ود جنې د ښتې پر پولې

او زما د زړه پر سر ولښتیو

سپین ورېښم واچوی

زما د اوښکو جنازې

زما لګرېوانه یوسی

او فاتحه یې په خندا ولولې

زما د هیلو په قبروکی بیاګلان :

راشنه کی

لړمان مړه کړی !
او ماران ووژنه
زما د هیلو مړي !
په نوراني باران :
رنګین رنګین کړه
او :
سرته یې بیا بیا ، مسیحا راولی

کابل ۱۳ - ۹ - ۱۳۶۷

لوړه اراده

بيادي مينه يوجهان راته پرته ده
چې مې ستا و قد مو ته تلوسه ده
که تياري مې د ماښام د رله د ر و ړ مه
ماليدلی ستا په مخ کی پلوشه ده
زماله اوښکو مه و ړ ړ ړ ه چې بهيږ ی
هريو څاڅکی د پېړيو حماسه ده
دا ببر سو ته مې مه ګڼه په حيرت کی
په هر تار کی يی راتغښتي افسانه ده
ساندې مه بولی له خولې نه چې مې وزی
هره چيغه يو ه د رسته ترانه ده
ستاد ستر ګو بلا واخلمه مينه
ستا په هر کانه کی لو ړه اراده ده

١٣٧٠-٢-١٢
کابل

لیونتوب

داغ د مینتوب کله زما په سو زېدو ځي؟
کار د لیونتوب چېرې له ما په خندېدو ځي
زړه به کله روغ شي بې طبیبه، ممکن نه دي
زخم نا سوري کله په تشو مرهمو ځي؟
تا و د مینې وسو د جانان له بې غوریو
اور د عاشقۍ څنګه له زړه نه په اوبو ځي
توان مې لېونی شو د ځنځیر په شرنګېدو کې
فکر سودایي کله زما په رغېدو ځي؟
شپږ یمه اخیستې د وصال په تمه تمه
خیال هم د جانان را نه پاڅېږي په سپېدو ځي
څو مره آسمانو ورته پر ځمکه سجده وکړه
سر لکه پښتون کله زما، په ټیټېدو ځي

۱۲ - ٦ - ۱۳٦۹

کابل

د خوشحال ناوې *

شړنګ يې چو ږن بيا زموږ پردې کهول دی
د خوږ بنيو بيا زما پر زړګي شپول دی
داپې سبکلې د جانان بيا را حضور کړه ؟
خو چکن مي ځن په غاړه کې پسول دی
دا جنت د ګلو بيا دلته ودان سو ؟
چې معطر مې لا تراوسه پرې ماحول دی
دا هغه سبکلې ګلان بيا راغوړيږي !
پرا غزيو چې تر ننه غول ماغول دی
بيا کوڅې دي را تاوکړې ځن سنبلو
داچې ځن بيا د بلبلو باندې شخول دی
داپې ناوې د (خوشحال) نزګوره راوړه
دا پښتون تبر يې ځن واړه پر، ټول دی

۲۵ - ۳ - ۱۳۶۹

کابل - د ديم مکرو ريان

* په کابل کې د خوشحال د فرهنګي ټولنې د کليزې په وياړ.

زه پوهیږم

۱

بیا چې پر ملا پټنګ سوې زه پوهیږم
سترګې دې بل رنګ سوې زه پوهیږم
شونډې دې مسکا دې غوړ ولي
بیا چې مې ترټنګ سوې زه پوهیږم
څو مره چې پرهسکه غاړه راغلې؟
(ماته) د فرنګ سوې زه پوهیږم
لوړ ونه کړه عار د بې ننګۍ وې!!
مانه نام و ننګ سوې زه پوهیږم
سترګو کې دې زړه ته مصلحت وو
مستې په غورځنګ سوې زه پوهیږم

ماتې چې پیرېږدی د ښو سوي
لوری بیا په شرنګ سوې زه پوهیږم
ستا په هر کاندکی، آغاز وینم
دا چې بیا په جنګ سوې زه پوهیږم

۴ - ۳ - ۱۳۷۱
کابل

څاڅکي!

جنتي څاڅکي !
راسه یو آه سه
زړه ته لاړه وکړه !
او یوه اوښکه سه له سترګو ووزه !
د سوي زړه !
پر سوه خوناب راتوی سه
وینه یې وړه ، له خپله ځانه سره
او زما د غم او درد !
پر غرولو راسه !

* *

راځه د هیلو سپېرو دښتولوه
ګلان راسېړه له زوزانو سره !
په سارانه وړ مه کی ؛
تاوسه ، راتاوسه

د وحشي ګلونو پاڼي مې ځکره

او د وحشت !

پر د وږمو ، او ربړه !

۱٤ - ۱ - ۱۳۷۱

کوټه

د سترګو فتنې

دا د سترګو په کاسو کې چه فتنه وړې
د زړه سر می بیا په کومه بهانه وړې ؟
چې د ضبر ګو سترګو تور دی نیمه خوا کړه
څه حاجت دی چې پرشونډو وښ خواره وړې
خپل ایمان دی په محراب کې وو پلورلی !
چې نفس می د پردو په اشاره وړې
هغه (شان) دی ترڅو چې لانړۍ برباد کړ
په لستوني کې چې پټه پیمانه وړې

زماله اوښکو هم وېرېږې نه پوهېږم

گرېوانه ته چې مې گورې کنا ره وړې

سرپرسترگو مې د دارمرگی قبول دی

دا رسۍ ته چې مې غاړه نندرانه وړې

زما وینو هم بل قسم رنگ اخیستی

دا چاړه کړې دې په وینو تکه سره وړې

۳۰ - ۱ - ۱۳۷۱

کوټه

ایمان

پاتې سوې توری داستان را نه غی
قلم خالي سو بیان را نه غی!

چیغې مې اوري جهان را نه غی
اوښکې باران سوې گرېوان رانه غی

وینه سېلاب سوه طوفان رانه غی
څانګې کاسې سوې، آسمان رانه غی

کلونه تېر سوه جانان را نه غی
زړه لېونی سو، څه توان رانه غی

پښتونه لوېدلې د شرنګ ځنځیره!
شرنګ ته دی څله زندان رانه غی

چې له نیازمنو بې نیازه گرزم!
بورجل ته څله افغان رانه غی

۲۳ - ۵ - ۱۳۷۲

کراچی

د انتظار شپې

سنبلې زلفې کوڅې شوې که راځې
شونډې وا د ګل غوټۍ شوې که راځې
د نرګس لیمه هم تا ته منتظر دی!
د ګلاب سرې اننګې شوې که راځې
د بلبل نغمه د ګل سره آغاز شوه
پروانې غاړه غړې شوې که راځې
بڼ هم ښکلې زرغونه قبا په تن کړه
شنې لمنې ګلالۍ شوې که راځې
ساقي راوړه جنتي پيالې د میو!
مستې حورې لیونۍ شوې که راځې

د وطن کیږدۍ

مینه می لښته له خوبانو سره

ماته خوبرویه خپل ګلشن یادیږی

ګله راځه څومره یی شوق لرمه

ماته ګلان د خپل چمن یادیږی

څومره ګلونوکی موخوب کړیدی

راته می خپل شګلی ختن یادیږی

څومره یی مینه په زړګی کی لرم

خپله جامه می د خپل تن یادیږی

زه به جامی دکی له زړو څه کړم ؟

زما هغه خپل نرګس چکن یادیږی

ګله سبا له می کیږدۍ نه بوزه

ماته کیږدۍ د خپل وطن یادیږی

۱۰ - ۲ - ۱۳۷۲

کراچۍ

هر گل بوټي زلمي شوي راغور ېږي

ځانګې پېغلې ملالې شوې که راځي

تا ویل چې په پسرلي سي زه راځمه!!

اوس بهار، ځواني شوې که راځي

۱۰ - ۱ - ۱۳۷۱

کابل

دریم مکروریان

دا شپې څه یادونه

دا شپې شپې یادونه دا لحظې لحظې فکرونه
دا کړېکې چې راسي:
د وطن خوار ه غمونه!
له غمو سره مې سیال سي
اندېښنې او ډوب فکرونه
ما ته غېږ د وطن راکړی:
بیا لمن لمن ګلونه
بیا مې خپل جنت ته بیایي
راښوي خپل دامانونه
راښوي د آمو غاړې!
دا پراخ پراخ سیندونه

* *

د بابا د غر و لمنې !
هندوکش اوچت سرونه
پانې پټ مې راپه زړه کړې :
د ډهلي ښکلي تختونه
د چنګېز د لښکر ماتې
د ګرګین د زړه داغونه
د میوند په مرچلوکې :
د « ایوب » د بګړې ولونه !

* *

د ملالۍ په پلوکې :
صخر پټ او غیرتونه
د نازو ، زرغونې غېږکې
آ د ننګ او پټ خوبونه
د اېشیا په غمجن زړه کې :
د سرو وینو طوفانونه

دافغان په کاشانه کې:
دګر بتو پروازونه
دابې ساري آفتونه:
توري شپې او پرتمونه
ورسره پر دې لاسونه:
لمسېدلي صوسونه
دوحشت په تور زړګي کې:
بیا دلمر زرین ګامونه
رارسېږي، سباکېږي
توري شپې، تور ماښامونه!

۲ - ۱۲ - ۱۳۷۱
کندهار

ستر همت

زور دی ولاړی تر آسمانه له غیرته !

څو راپرې نه وتی لښ ، له خپل جرئته

مغرور خیال دی له معراجه سره سیال سو

فرښتې یې کښېنته راغلې له حیرته

د ایشیا تاجه پرېتول جهان راڅپور سوی

جهان بوږ سو ستاله برم او برکته

دانګریز ، چنګیز له تانه څومره چار دی

دا غضب یې لا په ځان ستاله هیبته

بې وسلې به هم راتلې زمری میدان ته

رب همه غسې پیدا کړې له فطرته

هر زمری دی په منګولو کې ګیدړ سی

څومره ستر یې د افغان لوړه همته!

۱۰ - ۱۱ - ۱۳۶۸

کابل

توپ!

یو ورځ نه یو ورځ به راسي
زه به وادرنه زړګی کړم
پړ بنو به دی بیده کړم
دامېل به دی غمی کړم
له اغیاره به دی پټ کړم
له پردو به دی پردی کړم
د سرتاج به درنه جوړ کړم
چه په تاسنګلی پېکی کړم
تابه دومره سنګلو مه
چه رقیب دی لیونی کړم
زه دی ومرم اې وطنه!!
چه افغان د!، دی راژوندی کړم

۷-۲-۱۳۶۹
کابل



په تیاره کی د ژوند و په ځېرخوځیږی
کله غورځی کله پرځی
کله تم شی !
کله پاڅی کله نا څی
یو هوس ته
سم ژونا ون ځنی ورانیږی
له رنا څخه یی ہېره !
نه وا څه ده ؟
زه وایم څه ده ؟
دا چی تور ه خوله یی وازه
دا چی خوری توری ککری
دا چی خوری غټ بډ لو نه

* *

داده !

دا هغه بلا ده

دا هغه تبه، وبا ده

آیا دا ناپوهي نه ده ؟؟؟

موږ لا ولې نه پوهیږو ؟

لا څه ده ؟

په نابودیو !

او لا هم نه پرې پوهیږو ؟

۱۳۶۹ - ۷ - ۳

کابل

زښتي شوشلي

زړه ته مې نږدې نږدې او سيږي اوس

مخ ته مې لاړ پرې پر منزلونه سته

مينه پر زړه هسې لېونۍ راسي !

څولې باندې تراوسه لا مُهرونه سته

کومه لاره سمه چې پرې ورسمه ؟

دې لاروکې هسې ګړنګونه سته

ماويل : آزاد بې له کړيو سم !

غاړه کې زنديه لا ځنځيرونه سته

سترګې مې پې وینې چې نږدې راځي
زموږ منزل ته لا ډېر فرسنګونه سته
زه به ئې په کومو شونډو ښکل کړمه
زما پر شونډو اوس لا هم زخمونه سته

١٨-٩-١٣٧١

کویټه

د شفق په غېږه کې

له تورو شپو سره مې وژړله
ستورو هم وکتل ،
او وې ليدله !
وېوا و بل ټې سترګکو نه وهل
هسې يې ومسل او وې خندل
زما فرياد و نه چيغې چيغې سوله
دوی هسې وکتل
څې و نه ويل !

* *

ولمر ته ورغلم د ييلو سره
لمر لا ويده ؤ د شفق په غيږ کې ،
لا يې په خوب کې نمر و دان ليدله

تلوسه هیله

زړه نه مې هیله تلولې راځي!!!
وایې سبا د ګل غوټۍ راځي
سهار ورځم د سپېره بڼ په لوري
زما د امید ډکه ځولۍ راځي
په چاودو شونډو یې خولګې مچوم
ځکه غمونو ته خوښۍ راځي
نازکو شونډو نه یې وګړ زمه
څومره پرې مینه لیونۍ راځي
که سکلې شونډې یې راوغوړېږي
ژوند ته خوښۍ ګړۍ ګړۍ راځي
خدای کړه چې پام یې په سپېرو شونډو وي
کنه نو ورانه دنیاګۍ راځي

نازکی شونډی دی په پام غوړوه !

. وینه د زړه مری مری د راځی

۳ / ۱۲ / ۱۳۷۱

کندهار

کړېدلې شپه

شمعې ستا شپه په بلېدو تېره سوه
زما شپه په هیله د ډېوو تېره سوه

ته خو په خپلو لمبو وسوځېدې !
پر ما د نورو په لمبو تېره سوه

پر تا اورونه په خندا بلېده !
پر ما لمبه په ژړېدو تېره سوه

تا خپلو اوښکو کې خپل ځان وېلی کړ
پر ما د زړه په وېلېدو تېره سوه

ستا پر لمبو لا پروانه کړېده
پر ما د ځان په کړېدو تېره سوه

ته لا د زړه و لوند وصال شاهده !
پر ما شپه خوشې په غمو تېره سوه

۱۷ - ٤ - ۱۳۷۰

کابل

ښونکاري سترګي

سترګې یې ښونکاري دي
ته ښه ورته وګوره
څومره چې مکاري دي
ته ښه ورته وګوره
داچه مړه کتل کوي !
دا خویې بې څه نه دي؟
زړه کې لوري چاري دي
ته ښه ورته وګوره
څوک یې بیا وژلی دی ؟
ولې پرې پوهیږې نه؟
سرو وینو تږ څاري دي
ته ښه ورته وګوره!

بیا دکوم معصوم ژړګی
بیا دکوم ماشوم ژړګی
مرګ لره تیاری دی
ته‌ښه ورته وګوره
زړه په چم اوخم کی وړی
چم چی د لښوکوي!
دا کله خماری دي؟!
ته‌ښه ورته وګوره!

۲۱ - ۶ - ۱۳۷۲
کراچی

د ژوندانه بڼ

ګله چې د خپل بڼ !
دګلونو په سیل وزمه
زانګم په خیالونوکې، را زانګم په خیالونوکې
زړه ورته لمن کړم !
سترګې هم ورته خولې کړمه
ځم په جنتونوکې، راځم په جنتونوکې !
ښکلې (لیسرلی) چې مې !
راتاو د بڼ په ګلوسی
پاڅم په ګلونوکې، راپاڅم په ګلونوکې !
بیا چې مې د حسن په ګلپا ڼو !
لمن ډکه کړم !
ورم یې اوربلونوکې، راورم یې اوربلونوکې !

کله چې مې غېږ ی نه !
بيا سرې (غوټۍ) را ولوېږ ی
تا وسم هوسونوکې، را تا وسم هوسونوکې
دا زما د هيلو (بڼ) !!
زما د ژوند (شيرين) فصل !
رسې بهارونوکې، را رسې بهارونوکې !

۱۵ - ۲ - ۱۳۷۰
کابل

پښتني غرور

سر راته د شعر چې مې بلبلې سي !
ورکې مې د زړهٔ د غم غـزلې سي
زړه چې ځـه رسوا پکښې خپل ځان وينې
نورې يې مسـرې پکښې مجهولې سي
وينه مې د زړه چې پرې راڅاڅکې سي
ښې پکښې رنګينې مې بـدلې سي
راکـړه پښتنې ځـهونه ورمه ګل !
ځوکې د کوځـيو بـه مې ښکلې سي
لوړمې ځې ترسره پښتـنې غرور
ياد چې مې زلمې او خپل ښاغلې سي

۲٤-۹-۱۳۷۱

کراچۍ

سنگلی سبا

بانه دی وسپره گلان راځی.

پکښې کی زړې د جانان راځی!

نرگسه! ستاله سترگو وگرزمه

زړگی ته بیا سترې ارمان راځی

دا وښکو ستوری راالمن لمن سوه

آه او فریاد می دگریوان راځی!

دا په زنځولو بې غوغا گډېږي!

پرې ځنجر ونه د آسمان راځی

زماله مانښامه څخه مه بېږېږه

که پکښې لتور وحشی دبیان راځی

غوټۍ مړ وند وشه لتوری شپې وینه!

سنگلی سبا (!) څه نرامان راځی!

۱۹ - ۱۰ - ۱۳۷۱

کندهار

ولې وطنه بهار؟

که یې هر څومره غمونه و شرمه
که یې هر څومره دردونه هم تکور کړم
که یې هر څو وټپونه پټې ور وړم
که یې هر څومره یاغي هیله د کور کړم

*　　*

بیا هم زړه کې ساه د ه تنګه تنګه کیږي
ګل ته لاس وړم خو اغزي سي راجګیږي
دا زما د زړه په ګلو څه راغلي؟؟
د بهار په مسته غېږکې مړاوي کیږي

*　　*

تا سې راشي زما له زړه نه تپوس وکړي
چه په تا باندې څه کیږي او څه وسوه؟

یبلي چاودلی وی دلمر په زړه کی
او د موسئ د کلام بوی تری وتی
لمر لا ویده وُ اولا نه ولینبېدی
د سره افق په سره لمن کی هسي
نه ځلیدي

* *

ولاړم سپوږمۍ ته مي درد و نه یووړه
سپوږمۍ د خیال په تال !
او چیته سوله !
لکه رنځوره پیغله !
په مینه مینه مي د زړه پر دښت
راکښته سوله !
ما ورته شرح د زمان ستم کړ
نیمه موسکۍ شوه را نه لیری ولاړه
پوه نشوم غلي را نه چیری ولاړه ؟

* *

د شړلو غمو هم پر تا قيامت دی!!
څه رنګ سوی څه مات سوی څه چپه سوه

*   *

له زړګی به داسی آه راته بهر سی
یو دکړیکه بی بهار درته لټور دود کړی
یو څړیکه بی مستی لټو له سره کړی
یو لمبه به یی ستی وار ه وجود ګړی

*   *

دا بهار به څه بهار وی چی ځان نه وی؟
چی جهان وی او جنت وی ، جانان نه وی؟
چی او به او هوا ، هر څه بېګانه وي ؟
وطن نه وی ، ولس نه وی ، افغان نه وی؟

۱۳۷۳-۱-۱
کراچی

رسوا داغونه

که دی هرڅو مره

نظر په ښو پښ کړي!

زما د زړه داغونه هم

رسوا ، رسوا دي

که زندی زلفی دی

وا ړوي وښا ته

ښني تغمې په غاړه:

وینې چې نما دي!

که د سرو شونډو سرخی:

پلونه ور کړي!!

زما په وینو کې سرخی

ننبر ملا ده دي!!

د زاهد کعبه هغه !
زړه کعبه ده :
ستا په زړه کې تقوا ګانې ،
په رښتیا دي !

*　　*

ستا ښایست که مې :
په هر کاته کې وژنې !
خېر ، تیارې مې د عقبې رڼا رڼا دي

۲۲ - ۱۰ - ۱۳۷۱
کندهار

دبنګر د ژړا

نه بارانو، نه اسمانو، وژړل!

نه دریابو، نه توفانو وژړل

دامې ګریوان وو غاړې غاړې ولاړې

چې د ساحل مستو څپو وژړل

ګلرېزې پرېښوکې پالنې پانې ولوېد

چې د غوټۍ سروانګو وژړل

دابې پټۍ چاپه مړوند ومښل؟

چې مات منګی، ماتو بنګړو وژړل

چاچوبږې پرپلو داغ وواهه؟

چې سره لاله نه بیابانو وژړل

چا یې ولمرنه لوند ګرېوان ښکاره کړ؟

چې وسبا ته، تورو شپو وژړل

۷-۲-۱۳۷۴

کراچی

د دستور و جرگه

د زړه گل به مې راشین سی ته به راسی !

تور ماښام به مې راسپین سی ته به راسی

لمر د ستور و جرگه بیا لیږلی شپې ته

د سپوږمۍ خیال به حسین سی ته به راسی

پېلبو به ، پسرلی ، په غېږ کې راوړی

د آسمان مخ به رنگین سی ته به راسی

زما په شپوکې لمر ویده دی مه بېږه

هر قدم به دی زرین سی ته به راسی

ما د گلو کښت لیدی پراغزو تلمه !

هر اغزی به ، یاسمین سی ته به راسی

زما داوښکو څاڅکی چا زهری ته یووړه

هر فریاد به مې پروین سی ته به راسی

د فرهاد د تیشي ږغ مي ځي له غرونه
هرگوزار به یي، شیرین ءِ سی ته به راسي
هرنفس به په لمبو کی را (سوما) سی!
د نمرود زړه به غمگین سي ته به راسی
کریمه به هم له گلو سره خانـدی
لتوراوربل بي نازنین سي ته به را سی

۱۳۷۴ - ۷ - ۲۴

کراچی - گلشن اقبال

لیونی زړه

زړه ته چې را تیره کړم، ژبه ګوېدای نشي !

ژبه چې څه وایي، شونډې سپړېدای نشي

عزم د ورتګ وکړم زړه راته پښېمانه سي

زړه چې مې راضي کړمه پښې ورته ورتلای نشي

خیال یې را حضور کړمه راسي د جانان سره

سم تصویر یې وکاږي، سترګې یې لیدای نشي

سترګې یې راځي په نازمینه پکښې بل وهي

ما ته چې نږدې راسي هسې بلېدای نشي

ما ته هم قوت راکړي څه تر منزله مې !!

زړه لیونی سوی دی لور نو صبرېدای نشي

١٣ - ٤ - ١٣٦٩

کابل

دخپل کور مهاجر

په عمر وعمر وچې تا ته منتظر یم
څکه دا چه ستا په هیله کې اسیر یم

که مې څه اسره په تا کې نه لید لای
نو به څله لاس تړلی د تقدیر یم

اوس نورا سره بس کړه نوره پردیسي دی
ګوره څو مره د غمو نو دامن ګیر یم

سا ه مې نښته ، وینه نښته په رګو کې
بس پر مخ داوبو تش خیالي تصویر یم

د کلو کلو له رنځه نه رغیږم !
له دې ژونده اوس و مرګ ته په تدبیر یم

سترګو څله کړې ژړا چې مهاجر شوه ؟
ګوره زه هم په خپل کور کې مهاجر یم

۳ – ٤ – ۱۳۷۰

دیوي پردیسي ښځې:

فریاد

یو ورېم د هجر زلزلو یو و رمه

په تورو شپو کې توفانو ، یو ورمه

چې بندیوانه یې د غرونو کړ مه

څو هوسونو د پلیسو یو ورمه

په ناآشنا او اجنبي لاروکې!

د تو ېکو نو ، په برچو یو ورمه

د خپل معصوم ښایست په لومه ښکار سوم

ظالم صیاد په څه پلمو یو ورمه

له خپل ګرېوانه چاته وژاړمه ؟

چې خپلو سپینو پښتنو یو ورمه

یو بېکسي بل پردیسي سوه خدایه !

بل تو منو نو د پردو ، یو ورمه

ماته شملې پښتني مه یادوي!

زه بې له پلاره بې جرگويو ورمه

که یوه شخړوم، لبشر و مه زه

د نافرمانو، فیصلو یو ورمه

د چاچغادو، بې وطنه کړمه!

د فرعونانو، ناکړدو یو ورمه

۱۳۷۳-۸-۱۱

کراچی

آسمان نه ولاړم په زخمي وزرونو
آسمان ؤ شين له خندا
آسمان ؤ سپين له رڼا
مغروري سترګي يي راواړولي
سترګو يي بل واهه له کومه جوره ؟
له کوم ستم ؟
او يا له کومي نغرا ؟
د (سکندر) ؟
که د (اکبر) له جفا ؟
* *
آئينه آئينه سوم پراوبو ولوېدم
ځپه ځپه سوم ،
د ساحل غاړو ، په ببړه يو ورم !
ټوټه ټوټه سوم
اقيانوس په تل کي ،
پرېوتمه !

د شپې راز

څه د وېرشپه یمه سهار سم څنګه ؟
د ګل ریبنه یمه بهار سم څنګه ؟
بیا می خیالونه اسمانونو ته ځی !
د لوړ نظر د غشو وار سم څنګه ؟
نن می زړه ولېښ ولېښ دیدنو ته غواړی
هسې لحظې هسې دلدار سم څنګه ؟
په هر لنبان کی می یو درس ځلیږی
د لور و شرنګ یمه ګوزار سم څنګه ؟
رګونه پرې دی طبیبان رانغله !
لا په زخمونو کی پرهار سم څنګه ؟

لکه غوټۍ د ننه راز لرمه !!
د ګل د سرو شونډو اقرار سم څنګه ؟

۲ - ۹ - ۱۳۷۴

کراچي ـ ګلشن اقبال



سکر وته

ایره نه وم سره سکر وته وم دننه
زه په بوټو او خځلو د دیګدان کی
یوه ورځ په لوبو لوبو کی چاپوو، کړم
او س لګیږم او بلیږم په خپل ځان کی

* *

بل مستی

چی د بل په میو مست یی او مستی کړی
څه به غم د خپل وطن د بدبختی کړی
څه به وا نخلی د وطن له درد او رنځه !
چه په سر و وینو یی لوبی په سستی کړی

اوښکي !

جوړيږي له خپل ځانه تالابونه کړه !
غرقيږي ببړۍ او ساحلونه کړه
موج سوه او څپه سوه نوره هيښبمه سوه
ولېښيږي سمندر او توفانونه کړه

* *

منترونه

اوښکي سمندر سوې سيلابونه سوه
ولاړه بې مهاره بهيرونه سوه
يو يې وړه جالونه له خپل ځان سره
زړونه يې تسخير کړه منترونه سوه

پښتنه مينه

اوښکه پرګريوان چې را ايله سوله
ښه سوه چې لتو ده سوه لا درنه سوله
ښکلې سوه رنګينه سوه اصيله سوه
هيله سوه په مينه پښتنه سوله

*   *

مرګ

چې د مرګ په لومه نه تلای ډير به ښه وو
مرګ نيستي ده، نابودي ده، جدايي ده
چې دا توري پنجې کښيکاږي پرغاړو!
خوږ ژوندون له، برباده برباديده

B
3.532
RAS
7148

عرفان

د ځاورې دښمن ته!

نه به ځه وايې وطن ته!
چې زه څه يم؟
دا چې نن يې ورانوې،
او لوټوې يې!
په کوم مخ؟ او کوم سترګو؟؟
به ورګورې؟
داره ماره!
ګناهکاره!
چې پلورې يې!

۳ - ۳ - ۱۳۷۳
کراچي

ذره ذره سوم ،

د بېړيو تر څرخولو لاندې

او ، د نهنګ د هوس ،

شومه سومه !!!

۱۳۷٤ / ۷ / ۱۵

کراچۍ - ګلشن اقبال

مجهولی کارنامې

ستا ترا ونبکو چار سم چې روانې ځي
څو مره دې د ا ډ کې سترګې ښکلې دي؟
بلې دې لمبې له سره جګې ځي!
زړه کې دې او رونه چیرې غلي دي؟
ستا له دې بزې وجود نه وګر زم
وینې د رګو دې چا زببنلې دي؟
ژاړې په ژړا کې خندا هم کوې!
غم کې دې خوښې راخو ځیدلې دي
سوځې سو ځید وکې دې رمز ونه دي
هسکې دې لمبې بلې ساتلې دي!
شمعې! تا په خوی کې پیښتنه وینم
تا څومره سختنې پرځان منلې دي!

ستاسې هره اونبکه په خندا راشي

ځو مره کارنامې پکښې مجهولې دی

۴-۳-۱۳۷۱

کابل

کریمه رسولی : د وطن ترجمانه

یومتل دی چې د زمکه هم هغه سوزی چې او ر ور باندی بل وی. .. خو په افغانستان کې د تېر و څو کلونو راهیسې داسې بل شوی اور نه یوازې د افغانستان زمکه او د هغې خاوری او -سیدونکي وراته پرانته کړل بلکې (په خصوصي توګه) د کوزی پښتونخوا او سیدونکو ته یې هم تاو رارسیدلی دی. د دغه بارو دی تاؤ له امله د کوزی پښتونخوا شاعرانو ادیبانو او نورو لیکوالو هو مره څه دیر لیکل کړیدی څومره چې د برې پښتونخوا (افغانستان) لیکوالو کړي دی . بلکې اوس څو د افغانستان د جنګ په سبب په پښتو شاعرۍ کښې څرګنوی استعماری او علامتي لفظونه داسې رنګ شامل شوه چې اوس د متل او مثال په توګه پیش کیدے شي او دا څکه چې پښتو نه که څه هم د اتفاق رسۍ له لاسه پرېښې ده ولې په ذهني لوګه باندې د بل پښتون په غم خفه کیږی او یې دردیږي - خوږیږی.

د دې تمهید ترلو سبب د محترمه کریمه فیض زاده رسولی هغه شعري مجموعه ده چې دا وخت زما مخې ته ده او زه یې د خپرلیکلو اراده لرم .

محترمه کریمه رسولی د لوموړی شاعرې او افسانه نګارې پروین فیض زاده ملال خور ده که او ګڼلی شي نو به مبالغه نه وي چې شعر او ادب د دې د وار و خوېند و په میراث رسیدلی دی . ما هم کریمه رسولی هغه وخت و پیژندله کله چې د هغې یو غزل په (جرس) کې د چاپ د پاره راکړل شو خو اوس چې کریمې رسولی خپله شعري مجموعه ، پر هغې باندې د خپرلیکلو د پاره راکړه نو زه متوجه شوم چې د هغې د غه ټولې غزلې او نظمونه په وار وار ولولم .

زه په دې کښې هیڅ باک نه ګڼم که او وایم شاعرې زما میدان نه دی او نه ځان د دې جوګه ګڼم چې په یوې شعرې مجموعه دې ځامخا څه او لیکم خو د کریمه رسولی په وړا-
-ندې ما بیخي د انکار جرئت و نه کړای شو .

دا چه د کریمې رسولی شاعري څنګه ده ؟ نو د دې سوال

کریمی رسولي د هوګو یو ه وینا په خپله جواب ګرزولی دی.

هوګو وایي: شاعران څوک نه وی څوک بل. خو شعر نه او بل نه لری. یو شاعر حق لری چې یا شعر، نه له شعر ووايي یا بې ګټې .....

شاعری د ژوند ترجمانی او د ژوند آئینه ګڼلی شوی ده او زه داسې ګڼم چې کریمه رسولی د خپلی پوهی، علم، سوچ او فکر و شعور تر حده په خپله شاعری کې د خپل وطن د او سید ونکو او هېواد والو د ترجمانی حق ادا کړی دی.

نه یوازې د وطن او وطنوالو ترجمانی یې کړی ده بلکه د مینې او محبت غږ یې هم اوچت کړی دی. (شاعر چې په انسانانو کې ډیر حساس مخلوق دی) تل د مینې طلبګار وی، هغه مینه غواړی، مینه ویشي، د انسان سره مینه، د وطن سره مینه د قام سره مینه. هغه وایي چې:

« غوارمه چې ټوله دنیا مینه مینه مینه شي »

« پیرګوهر »

همدغه خبره کریمه رسولی هم کوی او وایي چې:

ربه ! دا غبره ترمنځ سپینه کړی

مینه د زړګی ، زړونه په مینه کړی "

ننباغلی افضل رضا خپل کتاب تخلیق او تنقید کښی د ذبیر ابن

ابی سلمی یوه فقره داسی نقل کړی ده :

« که د شعر او ریدو سره خلق و وایی چی شاعر رښتیا وایی ،

نو دا به ښه شعر وی . »

د همدغه پورته ذکر شوی وینا په رڼا کی د کریمی رسولی دغه

دوه شعرونه په دی نیت وړاندی کوم چی لوستونکی اندازه

ولګوی چی دی محترمی شاعری څومره رښتیا شاعری

کړی ده : هر زمری دی په منګولو کی ګیدړ شی !

څومره ستر یی دا فغان لوړه همته

او : لوړمی ځی تر سره ښتی غرور

یا د چی می زلمی او خپل ننباغلی شی !

همدغه شان په دی مجموعه کښی داسی ډیر شعرونه شته چی

د وطن ، د زمکی ، او د وطن د ښا زلمو سره د مینی او صداقت

ربنښتنی اظهار تری ګیری . بلکی د غه مجموعه خو بیخی د خپل

هیواد د ورانو دیوالو ، سوزلو باغونو ، او ایره ایره پولـو
پښتو پر زړه محوړ بیدلی تأثر لاندی لیکل شوی ده .
کریمه رسولی پوښتای وایی :

گله سباله می کیږي دی ته بو زه !
ماته کیږي دی دخپل وطن یا دیږی

دی شعرکښی که څه هم د" کیږي دی" لغوری تکرار په سماعت او بصارت گران پریوزی خو خبره دمینی او رلیښتنوب کیدله او داچه" شاعره ښتیا ویلی دی" په مناسب دکریمه رسولی په شعری صداقت شک نشی کیدای ، هغی بیشکه رښتیا ویلی دی ، اصلی مینه خو د وطن ده ، د قام ده، داولس ده ، او کریمه رسولی د خپل پلارگنی وطن سره دمینی اظهار ښه په خلوص کړیدی « ستر کندهار ته »
تر عنوان لاندی داسی وایی :

ترتا جار شمه وطنه !　　ستا په زړه کښی خوبی کوردی
زما ستره کندهاره !　　زړه می تل په تا تکـور دی

ښاغلی سلیم راز دیوکتاب سریزه کی لیکی :

یرغل په استحصالی لښکرو کښې او پرلوټې لوټې وران ویجاړ وطن کښې د سترګو زلفو شونډو و ساقي او شرابو ذکر هسې بې ځایه او بې معنی خبره ښو ریږي .

کریم رسولی خو د « خاورې دښمن » ترنیغ په نیغه او په ډاګه زړه « د زړه مارویلی شي » ولې په بنا وټې یا د تصنع په رسیدلو لفظو نو کښې د دوغږنه شاعری نشي کیږي . خو د دې باوجود هم دهغې شاعری بیخي د لطافت ، حسن ، مینې ، نغمګې او شونې نه خالي نه ده .

هغې خپله زمکه مخاطبه کړې او ورته دعاکوي وایي :

ورکړې لو یه ربه خیالي حسن نور !

ښه یې لا په ښکلیو کښې حسینه کړې

دغه شان یو بل شعر :

دا د سترګو په کاسو کښې چې فتنه وړې

د زړه سرمې بیا په کومه بهانه وړې ؟

او دغه شان په ډیرو شعرونو کښې ، خوند ، رنګ ، نغمګی ، او د زړه تسکین موندلی شي . د کریمې رسولی په دې مجموعه

زخمي شونډې

کریمه فیض زاده رسولي

۳۷۶۱

«شاعري د ادب يوه ښکلې او زړه راښکونکې څانګه ده چې د ژوند شوخي، نغمګي او تازه ګي لري، کيف وسرور او مستي لري او انساني جذبو ته نيغ پر نيغه اپيل کوي څکه انساني جذبو ته حوصله او ولوله ورکوي او زړونو ته تسکين خوشالي او توانائي بخښي.»

ممکنه ده چې ځينو کسانو ته د کريمه رسولي په دې شعري مجموعه کښې هغه رنګيني تازه ګي، شوخي نغمګي، کيف او سرور او مستي ونه ښکاري کومه چې د روماني او رنګينې شاعري خاصه ده خو د بې وطنۍ د کرب او اذيت، د مهاجرت د سخت سفر او د دربدري ورځو شپو نه چې د غه حساسه شاعره تېره ېړې ده نو داسې حال کښې هغه د زلفو رخسار، د ګل او بلبل د محبوب سره د راز و نياز او د مستو نشو او ديسرلي د رنګينو شاعري څکه نشي کولای چې کريمه رسولي د روغتيا شاعري نه کوي. د هغې زړه څو:

«د بهار په مسته ځېږ کښې مړاوې کيږي»

د بارودو په سخا بوي کښې، د بمونو په لمبو کې، د جبر ظلم

کښې ، زما ډیلو ناوې ، تېښتګي ارادې ، تخاڅکي او ښېنې نور ـ نظمونه د ښې شاعرۍ سره د پوخ شعور عکاسي کوې .

په ځینو نظمونو کښې د جدیدیت سره کلاسیکي رنګ هم زیات محسوسیږي د مثال په توګه : دسترګو فتنې او د انتظار شیبې په غزلونو بانزې خو داسې ګومان کیږي لکه غزلونه چې پخوانی اولس شاعر وئیلي وي ، خو زمونږ د بې چاپه طرز تحریر او په اسلوب قدغن نشو رګولے او نه دغه حق چا نه ترو رلے شو اصل خبره داده چې د محترمي کریمه رسولي شاعرۍ ته پښتو شاعرۍ کښې کوم مقام حاصل دې او هغه د څومره اعزاز حقداره ده؟ لو دغه فیصله به د دغې مجموعې (زخمي شونډې) د چاپ نه پس لوستونکوا و د کتاب نقادانو ته پریږدو . زه باور لرم چې د کریمه رسولي او د پښتو شاعرۍ لوستونکي او نقادان به یوه سمه او صحیح فیصله اوکړي . خپلې خبرې په همدې ځای ختموم او هیله لرم چې د دې مجموعې په چاپ به نړیوازې د پښتو ادب کښې یوه ښه اضافه اوشي بلکې د ادب لوستونکي به کریمه رسولي ته ښه داد او حوصله هم ورکړي .

طاهر افریدي کراچي

۹-۸-۱۹۹۵

دا مجموعه :

دمحترمی کریمی فیض زاده رسولی د یوشمیر اشعار و ـ مجموعه‌ی چه همدا حاضره مجموعه ده تکی په تکی ولوستل، ما څه کلونه دمخه هم دکریمی او دد ې دخور پروینې فیض‌زاده شعرونه لوستی وه، یو شمیر یې د موسیقی پرسورونو برابرهم ویل سویدی چې دهیواد دسندر غاړو له خوا په کیسیټونو کی ثبت سوی دی، خواوس یې ترڅوا د پختیا ـ تشبیهاتو او رنگینی په لحاظ دستاینې ور، ویل کیږي. زماچې دنیمې پیړۍ راهیسې د شعراوادب سره مشغولا ده نو دحاضری مجموعی ادبی مزیتونو محظوظ کړم، شعراوادب چې یو پاک مصروفیت دی، مؤثره او خوندوره مشغولاده، چې له تاثیره یې څوک وتلای نسی.

دایشیا یونامتو عالم او سیاستمدار دخپل هیواد (هند) په یوه ادبی محفل کی، یو وخت وویل : چې

شاعری دختیځو الو یو غوره صفت دی ...... داخبره
می په ذهن کی ساتلی ده . چی دادبیاتو او شاعری تاریخ
ته په یوه اوږده نظر وګورو نو دامی سترګو ته ودریږی
چی ختیځوال پاچهان په تیرو زمانو کی شعر ډیر مره تر تاثیر
لاندی راوستلی وه . چی شاعران به یی په دربار کی د زرو
یا وریښمو سره په تله کی تلل او هغه به یی دوی ته د انعام
په توګه ور سپارل . په هند کی چی افغانانو پاچهی کړی
ده په دوی کی ځینی پاچهان شاعران هم تیر سوی دي.
د هوتکو - سدوزیو او بارکزیو شاهی کورنی د
شعر و ادب خخه برخوال وه او د سدوزیو او بارکزیو
فلزی مسکوکات په نونډ ورو بیتو شکلی سوی دی.
لر دی پرته دینی او مذهبی قصی او هم دا رنګ ځینی
رواجی نکلونه او هم د افغانستان لوی تاریخ د آریائیانو
څخه بیا تر اوسه په نظم جوړ سوی دی او هم "تشرح" چی
ځانته بیل تعریف لری په ډیرو ژبو ستر او په نظم جوړه
سوی ده او د ا چه نارینه او لادونه به پیدا سوه نو په ډله

ایزه توګه به په‌لوړ آواز وویل کیږده.

لوړلوړ ناریه، پرخنګ، څه نجونې خوږ په راوړ وستر کي ښځي، په زیاته‌بیا پیغلا نی پرشاعري کي د نامه ځنبتنانې سته (چې په پښتو خزانه او خپلو نورو کتابو کي سته). سږکال ۱۳۷٤ دلړم په ۱۱ نیټه د پښتو رچاپ د هیواد ورځپاڼې یوبیان خپور کړی دی چې د پښتو ر په یوه ادبي غونډه کې چې د دوو نامتو ښځو شاعرانو په ویاړ جوړه سوې وه شمیر پوهانو لیکوالو شاعرانو ګډون پکښې کړی وو. په دې غونډه کي محقق لیکوال حبیب الله رفیع وویل: چې پښتو شاعري لومړی ښځو کړې ده تپې (لنډۍ) او متلونه وار د ګښتي د ښځو له خوا ویل سوي دي. دا د پښتو شاعري شعرګنډه برخه یعني لنډۍ چې شمېر یې زرګونو ته رسیږي عموماً په ښځو او زیاتره په پیغلا نو پوري اړه لري.

د یر و لیکوالو او منتبعینو د لنډیو او په ښځو پوري د مربوطو داسي نورو ادبي برخو په را

مخکنی خبری

وکتور هوگو یو شعر خوښوونکی لیکوال وو چی زیاتره وختونه به یې دلوروشاعرانو شعر ونه لوستل ، ځکه نو دشعر په باره کی ئی ځانګړی خیالات هم لری .

هوگو یوځای ویلی دی چی « شاعران ښوک ښه وی او ښوک بد ، خو شعر ښه او بد نه لری . یو شاعر حق لری چی یا ښه شعر و وایی او یا بی ګټې ..... »

همدارنگه یو بل لیکوال رومی دورگون د شعر په باره کی د خپلو ځانګړیو نظریاتو په لړکی وایی چی : « شعر د ژوند انه دار تیاوو او معیارونو تابع کیدای نشی » دده په نظر « د گل سره ښوک په دی خاطر مینه نه لری چی د هغه عرق دوا ده ، بلکه د هغه د لطافت او ښکلا سره مینه لری . »

زه غوارم چی خپلی ټولی خبری د پورتنیو

زخمي
شونډي

کریمه فیض زاده رسولي

د شعرونو مجموعه

۱۳۷۴

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

دوو جملو په کلي مفهوم کې رالنډې کړم.

لومړی دا چې زما د شعر ونو دا وړه مجموعه چې همدا اوس ستاسې په مخ کې پرته ده یا به نبه وي یا بده خو یو شاعر دا فطري حق لري چې د یوه بې وطنه، یوه بې سرپرسته زړېدلي کوچنی، یوه کړېدلي مهاجر، یوه ځواني کونډې او د یوه مظلوم زیار ایستونکي هموطن د زړه آواز او سوځوونکي اسوېلي منعکسې کړي او یا د خپل توپه تونه سوي هېواد تیرې کارنامې او ویاړنې یادې کړي، ځکه نو ما دې ته ترجیح ورکړه چې په اوسنیو شېبو کې خپلو څو د غسې شعرونو یوه مجموعه چاپ کړم.

دوهم دا چې پر دغو شعرونو کې کله نا کله د الفاظو او کلماتو د فورم د ښکلا پر ځای د مفاهیمو او معنویت پله درنیږي او سمبولونه د شعر د مضمون څخه د ښکلا او بر څیښي، ځکه نو ممکن زما دا شاعرانه ټوټې د ښکلیو او نوښتو په ګلو په څېر نه وي او یا به

پتولولو اولیکنوکی زیار ایستلی دي چې زه صرف

دلته یو یوه نمونه دلته ذکرکوم :

سپوږمۍ پر منځ د آسمان راغله !

زه خواره ناسته مرور پخلا کومه

زما بر نه یا دیږي یـــــا ره !

که د جنت پر منار و ، ولاړه یمه

ورځ ته ځي تر شا د بر ګو ر ي

تر دا ختلي زړه دی وګرزم مینه

لورلو د حاضری مجموعی د متن پر اشعار و باندی

لورځه لیکل خوشحه ګران کار نه و وصرف داخبره -

کفایت کوی چی و وایم :

د اشرف البلاد (کندهار) پرځوانه طبقه

کی پاک ځوای (ح) کلمه (بریالی "ح") ، کلمه

(جهانی) و مومی ، او کلمه کریمه او پروین

هم پر اضافه کری.

محمد یوسف (ویران)

۲ - ۱۲ - ۹۵

کراچی

زړه ور ونکی کشیش وندلری ، لوهیله لرم چې محترم
شاعران ، د قلم خښتنان او ګران هیواد وال به مې
د دغو شوسو څونکو آهونو او درد وونکو آوازونو
د او پښتو لو پر ګناه ونه بنیسی .

په شاعرانه اخلاص .

کریمه فیض زاده رسولی

۱۳۷۴/۹/۱

کراچی

اهداء

د خپل عظمت الوالا پلار په نوم ، چې ما
ته یې د لیک لوست روښانه مشعل په
لاس راکړ ، او پخپله د گران هیواد
د آزادۍ او سوکالۍ په ارمان جاویداني
سو .

* د کتاب نوم :

ژخمي شونډکۍ

* شاعر : کریمه فیض زاده رسولي

* چاپ : ډیسنټ پرنټنګ پریس - کراچي

* خپرونکی: د عرفان کتاب خپرولو موسسه

* شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

* کال: قوس ۱۳۷٤ = ډسمبر 1995

بسم الله الرحمن الرحيم

ښه کتاب، ښه دوست دی

پو رتنی جمله یو ډیر عالی مفهوم لری، افغانان چی د نیم نسل په عمر د خپل ګران هیواد څخه د نړۍ په ګوټ ګوټ کی د مهاجرت ترخی شپی او ورځی تیروی نځکه نو ښه دوستانو ته تږی دي.

رښتیا هم، ښه کتاب، ښه دوست دي.

دا کتاب د هغو ښکلیو شعرونو مجموعه ده چی زیاتره یی په حقیقت کی د وطن، ولس او خپل تاټوبی څخه دلیری توب او بیلتون نخوږی او زړه وړونکی زمزمی دی چی د هیواد د پیژندل سوی شاعری کریمی فیض زاده رسولی د ووستیو کلونو څو شاعرانه مرغلری دی.

د عرفان کتاب خپرولو موسسه ویاړی چی په دي لړ ه موده کی، خپلو هیواد والو او داد ب مینانو ته یو بل دوست ور پیژنی. موږ په دی لاره کی خپلو ټولو دوستانو ته توفیق غواړو.

(ع . ب) د عرفان کتاب خپرولو مؤسسی مسؤل

کراچی ۱۹۹۵/۱۲/۱